# د شمیرپوهنې بنسټونه

ډاکتر ماخان میرزي شینواری

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وینا

د وینا لاندې یوه ژبنیزه افاده یا وېینه پوهېږو، چې د دې لاندې دوه رښتیا ارزښتونو ،، رښتیآ،،(``wahr,,) w همداسې ،، نارښتیا،، یا ناټیک (``falsch,,) f څخه د یوه سره تنظیم کیدی شي.

ویناوې په لویو تورو $A$ سره په نخښه کیږي : ، او کېدی شي د منطقي یا سم اندیزو عملیو سره وتړل شي. بنسټیزې شمېرپوهنیزې ویېنې یا افادې ، چې له نورو افادو څخه منځ ته نه شي راتلی اکسیومونه بلل کیږي

لاندې بیلګه د دې شمیرپوهنې وینا روښانه کوي.

وینا

$A$ : هر طبیعی عدد د لومړنیو عددونو ضرب دی. دا یوه رښتیا وینا ده.

وینا

$B$ : هر لومړنی ګڼ یا عدد ناجوړه یا طاق دی. دا چې $2$ جوړه یا حفت عدد او پریم دی، نو وینا نارښتیا ده.

دا تروسه ښوول شوي اټکلونه

$C$ : ناپای ډېر د پریم اعدادو غبرګوني شته. دا یوه شمیرپوهنیزه وینا ده، څکه چې دا یا رښتیا ده او یا نا رښتیا. دلته موخه د لومړني عدد د غبرګوني څخه هغه لومړني ګاونډي ناجوړه عددونه دي ، چې دواړه لومړني عددونه دي ، د بیلګې په توګه.

$$(3,5),\ (5,7),\ (11,13),\ldots\ .$$

دا تراوسه حورا لویه د لومړنیو عددونو جوړه ( د 19.4.2006 پورې) ده:

$$16869987339975 \cdot 2^{171960} \pm 1$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کره کوني سره

$D$ : د جمعې ۱۳ –مه یوه د بدبختۍ روځ ده.

دا یوه وینا نه ده، ځکه چې دا په یوه رښتیا ارزښت نه شي تنظیودی.

لیکونکې: هولیګ،هورنر

## منطقي(سم اندیزې) تړنې( که غواړې: عملیې یا نښلونې)

منطقي یا سم اندیزې ویناوې کېدی شي په لاندې جدول کې ورکړ شوو عملیو سره و تړل شي.

یادونه : له کیڼ و ښي لور ته.

| تیک هلته رښتیا، که | وییندود | لیکندود | نومونه | |
|---|---|---|---|---|
| $A$ نارښتیا ده. | نه $A$ | $\neg A$ | نه والی | |
| | $A$ او $B$ رښتیا دي | ($A$ او $B$) | $A \wedge B$ | Konjunktion<br>یا د او تړنه |
| | $A$ یا $B$ رښتیا ده. | ($A$ یا $B$) | $A \vee B$ | Disjunktion<br>د یا تړنه |
| | $A$ او $B$ بیل رښتیا | (یا $A$ یا $B$) | $A \not\equiv B$ | Antivalenz<br>نابرابر ارزښته |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | ارزښتونه ري |
| Implikation<br>ترې لاس ته راوړنه | $A \Rightarrow B$<br>$B \Leftarrow A$ | له $A$ څخه $B$<br>له $B$ څخه $A$ | $A$ نارښتي یا $B$ رښتیا ده |
| Äquivalenz<br>برابر ارزښته | $A \Leftrightarrow B$ | ( $A$ و $B$ ته برابر ارزښته دی )<br>یا له $A$ څخه $B$ لاس ته راځي او برعکس | او $B$ همغه یا برابر رښتیا ارزښتونه لري |

د دې لپاره چې په منطقي افادو یا وییینو کې نوکان یا قوسونه سپما کړو، کره کوو، چې $\neg$ له $\wedge$ او $\vee$ څخه کلک یا قوي نښلوي او دا بیا له $\Rightarrow$, $\Leftrightarrow$ او همداسې له $\not\equiv$ .

دا ایمپلیکیشن په پام کې ونیسی، چې $B$ تیک هلته رښتیاه ده، چې $A$ رښتیا وي. له ناتیکو نیونو(فرضیو) ، تیک یا رښتیا او یا هم نارښتیا پایلې را وېستل کیدی شي.


دا د یا ترني لپاره نخښه یوه $v$ د په شان نخښه ده، چې د (vel (lat. oder ( لاتین. یا) لپاره ځای په ځای شوې. د یا ترني لپاره کېدی شي چې سومبول ،، $+$ ،، وکارول شي او د او- ترني لپاره ،، $\cdot$ ،،. که سومبول $0$ د ناتیک یا غلط لپاره وکارول شي او هر بل ارزښت د رښتیا په ځیر و کارول شي، نو کیدی شي منطقي ترني د طبیعي عددونو شمېرني له لارې هم پر مخ بوتلای شو یا استعمال کړای شو.

په شميروني (کمپيوتر ژبه کې له انګريزي راغلي کليمې NOT (Negation) ( نه والی)، AND (Konjunktion (کنجکشن)، OR (Disjunktion) ( ديسجنکشن)، يا EXOR oder XOR (exclusive or, Antivalenz) ( بې له يا نابرابر ارزښته) او د هغې نه والی NAND (negierte Konjunktion) ( نه شوی کنجکشن) ، NOR (negierte Disjunktion) ( نه شوی ديسجنکشن) او NXOR (Äquivalenz) (برابرارزښته) لپاره کارول شوي.


ليکونکي: هيوليګ، هيورنر، کيمرلې

که وينا د سويچ په څېر انځور کړو، چې تړلي وي، که وينا رښتيا وي، په همدې توګه واز ، که وينا نارښتيا وي، نو کېدی شي مسلسل سويچونه د يا – تړنې په څېر او غبرګ سويچونه د او-تړنې په څېر صورت ومومي .

د يا-تړنه




د او-تړنه





يوه نه-شوې وينا يو سويچ دی، چې تړلی دی، که وينا نارښتيا وي. له دې سره کېدی شي سويچ څېرې د برابر ارزښته، نابرابر ارزښته او ايمپليکيشن لپاره ورکړل شي.

برابرارزښته : $A \Leftrightarrow B$ همداسې $(A \wedge B) \vee (\neg A \wedge \neg B)$


Äquivalenz:


(c) ketabton.com: The Digital Library




نابرابرارزښته: $A \not\equiv B$ همداسي $(A \wedge \neg B) \vee (\neg A \wedge B)$

Antivalenz:




| | |
|---|---|
|   | ایمپلیکېشن یا ترې لاس ته راتلنه:<br>$A \Rightarrow B$ همداسي $\neg A \vee B$ |


سویچونه کیدی د ترانزیستور له لارې منځ ته راشی یا صورت وموميې، چې په جګ یا ټیټ ایښوول شوي شبانونګ جریان مومي یا تیریږي. د (1) ارزښت جګ شپانونګ دی ټیټ یا کم شپانونګ ارزښت (0) دی.

د دین DIN 40900 سره د اړونده (مطلوبه) شپانونګ تعریف ورکول کیږي. دا د ولاړګوډیز (مستطیل) خخه جوړ دی، په کومو کې چې اړونده ترڼې ورکړ شوې دي. یو نه- والی د یوې ګردی(دایرې) سره په نخښه شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


Konjunktion | Disjunktion | Antivalenz

كنجكشن | ديسينكشن | نابرابرارزښته




Negation | Implikation | Äquivalenz

نه-والى | ايمپليكېشن | برابرارزښته




منطقي عمليو لپاره لاندې كټمټوالى Identitäten باوري دی.

Assoziativgesetze: اسوځياتيو قانون

$$(A \wedge B) \wedge C = A \wedge (B \wedge C)$$

$$(A \vee B) \vee C = A \vee (B \vee C)$$

Kommutativgesetze: كموتاتيو يا بدلېدنقانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$A \wedge B = B \wedge A$$

$$A \vee B = B \vee A$$

De Morgansche Regeln: د دې مورګان قانو

$$\neg(A \wedge B) = (\neg A) \vee (\neg B)$$

$$\neg(A \vee B) = (\neg A) \wedge (\neg B)$$

Distributivgesetze: دیستریبوتیو قانون

$$(A \wedge B) \vee C = (A \vee C) \wedge (B \vee C)$$

$$(A \vee B) \wedge C = (A \wedge C) \vee (B \wedge C)$$

او نور :

$$\neg(\neg A) = A$$

$$A \wedge A = A$$

$$A \vee A = A$$

Alternative Darstellungen: الترناتیو یا بدیلیی انځورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايمپليکشن
Implikation: $A \Rightarrow B \quad = \quad \neg A \vee B \quad = \quad \neg A \Leftarrow \neg B$

Äquivalenz: ا $A \Leftrightarrow B \quad = \quad (A \wedge B) \vee (\neg A \wedge \neg B)$

Antivalenz: $A \not\equiv B \quad = \quad (A \wedge \neg B) \vee (\neg A \wedge B)$

بديلې فرمولونه زيات وخت په ښوونو کې استعمال مومي.

يوه منطقي افاده يا وينه ، چې د رامنځ ته شوې وينا رښتيا ارزښت خپلواکه تل رښتيا همداسې نارښتيا وي، تاوتولوجي Tautologie همداسې کونتراديکشن Kontradiktion بلل کيږي. داسې يوه افاده کړی شي د ښه بدلون سره همداسې د سره بدله شي. په ځانګړې توګه دا کتمټوالی باور لري:

$$A \vee \neg A = \mathrm{w} \quad \text{bzw.} \quad A \wedge \neg A = \mathrm{f}\,,$$

همداسې

$$A \vee \mathrm{w} = \mathrm{w} \quad \text{bzw.} \quad A \wedge \mathrm{w} = A\,,$$

همداسې

$$A \vee \mathrm{f} = A \quad \text{bzw.} \quad A \wedge \mathrm{f} = \mathrm{f}\,.$$

همداسې

ليکونکي: هيوليک،، هيورنر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې مورګان قانون او د دېستريبوتيو قانو کېدی شي وښوول شي، داسې چې د وينا د رښتيا ارزښت لپاره ټول امکانات وڅيړل شي. د دې مورګان قانون داپه لاندې جدول کې روښانه شوی دی.

| $A$ | $B$ | $A \wedge B$ | $\neg A$ | $\neg B$ | $(\neg A) \vee (\neg B)$, $\neg(A \wedge B)$ |
|---|---|---|---|---|---|
| w | w | w | f | f | f |
| w | f | f | f | w | w |
| f | w | f | w | f | w |
| f | f | f | w | w | w |

د ايمپليکېشن، برابرارزښتوالي او نابرابرارزښتوالي لپاره برابر ارزښته شننه له تعريف څخه لاس ته راځي.

د منطقي قانون د روښانه کونې لپاره د وينا

$$\underbrace{|x-1|>1}_{A} \Longrightarrow \underbrace{(x<0)\vee(x>1)}_{B}$$

ښه دليږي.

د د ېمورګان قانون سره سم لرو:

$$\neg B = \neg(x<0) \wedge \neg(x>1) = (x \geq 0) \wedge (x \leq 1)\,.$$

له دې سره سم ايمپليکېشن $A \Rightarrow B$ د وينا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$|x-1| \leq 1 \Longleftarrow 0 \leq x \leq 1\,.$$

سره برابرارزښته دی

بیا هم دا نتیجه لاس ته راځي ، که ایمپلیکېشن د تعریف سره سم د

$$(\neg A) \vee B = |x-1| \leq 1 \vee \neg(0 \leq x \leq 1)$$

سره بدل کړي.

د بېلګې په توګه افاده یا ویېنه

$$L : (A \vee B) \Rightarrow (\neg A \wedge B)$$

ساده کوو.. د ایپلیکېشن پېځای اینونه او د دېموران قانون له امله لاس ته راځي

$$\neg(A \vee B) \vee (\neg A \wedge B) = (\neg A \wedge \neg B) \vee (\neg A \wedge B)\,.$$

د دېتریبوتیو قانون له مخط دا وینا برابرارزښته ده د $\neg A \wedge (\neg B \vee B)$ سره.

پېژندل کیږي، چ د $B$ ارزښت بې اغیزه دی یا ارزښتناک نه دی او $L = \neg A$ .

د منطقي افادې $L$ د ازماېښت ته الترناتیو یا بدیلې کېدی شي یو د رښتیا ارزښت جدول هم وکارول یا ا ستعمال شي.

| $A$ | $B$ | $\neg(A \vee B)$ | $\neg A \wedge B$ | $L$ |
|---|---|---|---|---|
| w | w | f | f | f |
| w | f | f | f | f |
| f | w | f | w | w |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| f | f | w | f | w |

له دې دا هم لاس ته راځي: $L = \neg A$

کوانتورونه Quantoren

د فرمولو،، شتون لري....،، . ،، د ټولو .... لپاره،، لپاره لندوني شتونکوانتور $\exists$ او ټول کوانتور $\forall$ استعماليږي.. دا کوانتورونه زيات وخت د $A(p)$ سره په تړاو کې استعماليږي، چې د يوه پارامتر $p$ چې د ډېرى يا سټ $P$ توکى دى، په واک کې دي.

| Schreibweise<br>ليکندود | Bedeutung<br>معنا |
|---|---|
| $\exists p \in P: \; A(p)$ | يو توکى $p$ له $P$ شتون لري، د هغه لپاره چې $A(p)$ رښتيا دي. |
| $\forall p \in P: \; A(p)$ | د ټولو $p$ لپاره چې له $P$ دى $A(p)$ رښتيا دى. |

د دواړو وينا ډولونو د نه٠والي سره کونتوونه هم بدليږي.

$$\neg(\exists p \in P: \; A(p)) = \forall p \in P: \; \neg A(p)$$

$$\neg(\forall p \in P: \; A(p)) = \exists p \in P: \; \neg A(p)$$

دا $\exists!$ ليکن ډول هم روڼنى دى د فرمولولو لپاره، چې ،، ټيک يو ... شته،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کوانتورونو د شمېرنې ښوونې لپاره وينا

$$\forall \varepsilon > 0 \; \exists n_\varepsilon \; \forall n \in \mathbb{N}: \; n > n_\varepsilon \Longrightarrow |a_n| < \varepsilon$$

راوړل کيږي. دا په دې معنا چې يوه لړۍ(ترادف)

$$a_1, a_2, \ldots$$

د 0 په لور يا0 ته هځيږي، دا په دې معنا چې د پوره لوی $n$ لپاره د $a_n$ مطلق ا
رزښت د هرې د مخه ورکړشوي بند يا بنديز $\varepsilon$ څخه کوچنی دی.

نه-والی داسې لاس ته راځي، چې زړي وينا نه شي او کوانتورونه سره بدل شی،

$$\exists \leftrightarrow \forall .$$

د ايمپليکېشن يا لاس ته راوړني يا – راتلني اېنوونه او د مورګېن قانون څخه لاس
تهراځي

$$\neg(n > n_\varepsilon \Longrightarrow |a_n| < \varepsilon) = \neg(n \leq n_\varepsilon \vee |a_n| < \varepsilon) =$$

$$= n > n_\varepsilon \wedge |a_n| \geq \varepsilon .$$

له دې سره د نه شوې وينا دا بڼه لري:

$$\exists \varepsilon > 0 \; \forall n_\varepsilon \; \exists n \in \mathbb{N}: \; n > n_\varepsilon \wedge |a_n| \geq \varepsilon .$$

دا په دې معنا چې پرلپسې(ترادف) $(a_n)$ د 0 لورته نه هځيږي . دا په دې معنا چې يو
لرزښت $\varepsilon > 0$ شتون لري، چې له هغه پرلپسې $|a_n|$ تل بيا اوړي يا تېرېږي.

ليکونی:ک. هيوليګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیده ښوونه


یوه غوښتنه ثبوت) $B$ کېدی شي و ښوول شي، چې هغه له رښتیا وینا $A$ څخه را منځ ته شي او یا په داسې بڼه واړول شي.

$$A \Longrightarrow B .$$

ویناوې $A$ کړی شي وړاندنیونې( فرضیې ) هم ولري، چې هغه د ِغوښتنې $B$ لپاره اړیینې دي.

لیکونکی: هیولیګ

د بېلګې لپاره یې د تالس جمله را اخلو، چې هر په یوه نیم ګردی(نیم دایره ) کې رابند درېګودی(مثلث) ولاړګوډیز یا قایم الزاویه دی.




دا سیده ښوونه په لاندې دوه جملو ولاړه ده:

اول : په یوه مثلث کې د دننیو کونجونو جمعه $\pi$ ده.

دویم : د یوه برابر پښیز (یا که غواړی: متساوی الاضلاع) مثلث بنسټکونجونه پرابر لوي دي.

که دا په مثلث $\Delta(AMC)$ او $\Delta(CMB)$ و کاروو، نو له دې لاس ته راځي

$$\sphericalangle ACM = \frac{\pi - \alpha}{2}, \qquad \sphericalangle MCB = \frac{\pi - \beta}{2}.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له دې سره $\sphericalangle ACB = \pi - \frac{\alpha}{2} - \frac{\beta}{2}$ دی

او د $\alpha + \beta = \pi$ له امله په $\pi/2$ سره برابر.

## ناسیده ښوونه

د دې لپاره چې وښايو چې له یوې وړاندنیونې(فرضيې) $V$ څخه غوښتنه(ثبوت) $B$ لاس ته راځي یعنې ( $V \implies B$ ) ، کېدی شي ونيسو ، چې وینا $B$ د $V$ د وړاندنیونې له امله نارښتیا ده، دا مو یوه تضاد ته بیایي:

$$V \wedge (\neg B) \implies F,$$

د $F$ سره یوه نارښتیا وینا ده، په ځانګړې توګه $F = \neg V$ یا $F = B$ .

په ځانګړې توګه باور لري

$$B = (\neg B \implies F) = (\neg B \Rightarrow B),$$

که وړاند نیونې نه وي شوي.

لیکونکي: هیولیګ، کنش،ابببريښ

## ایمپلیکېشن ترې لاس ته راتلنه یا - راوړنه

$$V \wedge (\neg B) \implies F$$

د $\neg(V \wedge (\neg B)) \vee F = (\neg V) \vee B \vee F.$ سره برابرارزښته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ایمپلېکشن رښتیا وي، داپه دې معنا چې د شمېرپوهنیزو قوانینو ځخه لاس ته راغلی، نو باید غوښتنه(ثبوت) $B$ رښتیا وي، ځکه چې $\neg V$ نارښتیا ده او $F$ یا نارښتی او یا د $B$ سره برابر دی.

لیکونکي: هیولیګ، هیورنر

د دې ناسیده ښوونې د روښانه ونې لپاره ښایو، چې $\sqrt{2}$ ایراشنل دی، داپه دې معنا چې د مات یا مسر په ځېر نه شي انځورېدلای.

$\neg B:\ \sqrt{2}=\frac{p}{q}$ نیسو، چې غوښتنه $B$ نارښتیا ده. بس باور لري

د . $p,q\in\mathbb{N},\quad \mathrm{ggT}(p,q)=1$ سره .

دلته $\mathrm{ggT}$ انګرېزي یې gcdخورا عټ کډېروېشونی (ذوالاضعاف الاقل) دی.

د نیونې ځخه د مربع کونې او د $q^2$ سره ضربونې له امله لاس ته راځي

$$2q^2=p^2\,,$$

دا یه دې معنا چې $p^2$ او له دې سره $p$ یو جوړه یا جفت عدد دی. په ځانګړې توګه یو $r\in\mathbb{N}$ شتون لري د $p=2r$ سره. د $q^2=2r^2$ له امله $q$ هم یو جوړه عدد دی او له دې سره $\mathrm{ggT}(p,q)=2$ . دا د نیونې نیونې جوړښت $\neg B$ سره په تضاد کې ده، چې $\mathrm{ggT}(p,q)=1$ ، دا په دې معنا چې

$$(\neg B)\Longrightarrow B\,.$$

له دې امله یا د دې په تعقیب باید غوښتنه $B$ رښتیا وی،

## د پوره اندکشن له لارې ښوونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وینابنې د طبیعي پارامتر سره کېدی شي ډ پوره ایندکشن له لارې وښوول شي. که $A(n)$ یوه د $n \in \mathbb{N}$ په واک کې وینا وي، نو د دې لپاره دې لاندې دواړه د د ښوونې پلونه (قدمونه) روښانه- یا و اخستل شي. .

لومړی : د ایندکشن پیل : ښایو چې $A(1)$ رښتیا دی.

دویم : اینوکشنپایونه یا ختم: ښایو چې د نیونې چې $A(n)$ رښتیا دی( دایندکشن هیوپوتیزې)، لاسته زاځي، چې هم رښتیا دی، یاپه دې معنا چې

$$A(n) \implies A(n+1) .$$

نو دا باوري دی، چې $A(n)$ د ټولو $n \in \mathbb{N}$ لپاره ضدق کوي.

د یوه اندکشن ښوونې سره یو په بل پسې sukzessive دا پسې د تر مخه ځخه لاس ته راځي.

که د اندکشن پیل د $n_0 = 1$ لپاره نه بلکه د $n_0 > 1$ لپاره سرته ورسیږي، نږ وینا بیا فقط د $n \geq n_0$ لپاره صدق کوي.

## د مربع( څلورئ) عددونو د جمعې لپاره فرمول

$$A(n): \sum_{i=1}^{n} i^2 = 1^2 + 2^2 + \cdots + n^2 = \frac{1}{6}n(n+1)(2n+1) ,$$

کیدی شي د پوره اندکشن سره وښوول شي.

د اندکشن پیل ( $A(1)$ ):

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\sum_{i=1}^{1} i^2 = 1^2 = \frac{1\cdot 2\cdot 3}{6}.$$

د اندکشن پای

$$A(n) \implies A(n+1)):$$

$$\sum_{i=1}^{n+1} i^2 = \sum_{i=1}^{n} i^2 + (n+1)^2 = \underbrace{\frac{n(n+1)(2n+1)}{6}}_{A(n)} + (n+1)^2$$

$$= \frac{(n+1)\left[n(2n+1)+6(n+1)\right]}{6} = \frac{(n+1)(n+2)(2n+3)}{6}.$$

د اندکشن هیوپوتېزې، لکه چې روښانه شوه، په دریم برابروالي کې استعمال شو.

## ډېرۍ(سټ)

یوه ډېرۍ $A$ له توکو $a_1, a_2, \ldots$ جوړه ده یعنې

$$A = \{a_1, a_2, \ldots\}.$$

که توکي د یوه خوی له مخې خوی لرونکي (کرکټرېزه) شي، نو د دې لپاره لیکو

A={a:a د E خوی لري}

د دې لپاره سرې لاندې نخښې کاروي یا استعمالوي:

| معنا | لیکندول |
| --- | --- |
| | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| $a \in A$ | a د A توکی دی . |
| $a \notin A$ | a د A توکی دی . |
| $A \subseteq B$ | B د A برخدېرى(برخسټ) ده |
| $A \subset B$ | Bد A برخدېرى(برخسټ) ده |
| $\|A\|$ | دتوکو ګڼون یا تعداد په... کې |
| $\emptyset$ | تشدېرى یا تشسټ |

که $|A| < \infty$ همداسي $A = \infty$ باور ولري، نو دلته د پای دېرى همداسي ناپای دېرى څخه غږيږو.

دوه یا څو دېرى برابرزوريزى بلل کيږي، که د دوی د توکو ترمنځ یو بیجکتیو بلواک یا تابع یعنې برعکسکیدونکی بلواک شتون ولري ($|A| = |B|$ د پای دېرى لپاره ).

د $A$ د ټول برخو دېرى $\mathcal{P}(A)$ تواندېرى بلل کيږى، دا په دې معنا چې

$$\mathcal{P}(A) = \{B : \; B \subseteq A\}$$

له دې سره باور لري $\emptyset \in \mathcal{P}(A)$, $A \in \mathcal{P}(A)$ او $|\mathcal{P}(A)| = 2^{|A|}$

ليکونکي: هيوليګ، کنش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګڼونو (اعدادو) ډېرۍ

د لاندې ګڼونو ډېرۍ لپاره معیاري نخښې استعمال مومي:

طبعي اعداد : $\mathbb{N} = \{1, 2, \dots\}$

ټول اعداد: $\mathbb{Z} = \{\dots, -1, 0, 1, \dots\}$

راشنل یا هوښیار اعدا: $\mathbb{Q} = \{p/q: \ p \in \mathbb{Z},\, q \in \mathbb{N},\, \mathrm{ggT}(p,q) = 1\}$

ریل یا حقیقي(ریښتوني) اعداد: $\mathbb{R} = \{x: \ x = \lim_{n\to\infty} q_n,\ q_n \in \mathbb{Q}\}$

کومپلکس اعداد: $\mathbb{C} = \{x + \mathrm{i}y: \ x, y \in \mathbb{R},\, \mathrm{i}^2 = -1\}$

په همدې توګه لاندلیکنډول هم کارول کیږي:

$\mathbb{N}_0 = \mathbb{N} \cup \{0\}$ او $\mathbb{R}^+ = \{x \in \mathbb{R}: \ x > 0\}$ او دې ته ورته یا په همدې ډول

$\mathbb{Z}^-$, $\mathbb{Z}_0^-$, $\mathbb{Q}^+$, $\mathbb{Q}_0^+$, $\mathbb{Q}^-$, $\mathbb{Q}_0^-$, $\mathbb{R}_0^+$, $\mathbb{R}^-$, $\mathbb{R}_0^-$.

لیکونکي: کړهیولیګ

## په ډېریو کې عملیې

د دوه ډېریو $A$ او $B$ لپاره لاندې علمیې تعریف دي:

ټولنه (اتحاد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$A \cup B = \{x:\ x \in A\ \vee\ x \in B\},$$

غوڅی(قطاع):

$$A \cap B = \{x:\ x \in A\ \wedge\ x \in B\},$$


کمبنت یا کمون (تفریق)، پوره کېدونکې ډېری،

$$A \setminus B = \{x:\ x \in A\ \wedge\ x \notin B\},$$


سیوتریکې کمبنت (کمون)

$$A \Delta B = (A \setminus B) \cup (B \setminus A) = (A \cup B) \setminus (A \cap B)$$


په لاندې ځېرو کې د ډېریو عللیې داسې په نامه ون-دیاګرام Venn-Diagramme سره ښوول شوي دي.




$A$





$B$




تولنه


$A \cup B$ Vereinigung:

(c) ketabton.com: The Digital Library





غوځی

$A \cap B$ Schnitt:




کمښت


$A \setminus B$ Differenz:




سیومتریکي کمښت


symmetrische $A \Delta B$ Differenz:

که $B \subset A$ وي، نو یوځو دیاګرامونه یو بل سره خوري یا یو په بل پریوځي:





ټولنه

Vereinigung: $A = A \cup B$




غوځی

$B = A \cap B$ Schnitt:




پوره کېدنکي ډېری

Komplementärmenge : $A \setminus B = A \Delta B$

لیکونکي: هولیګ،هورنر، کنیش

د ډېریو عملیو لپاره شمېرقوانین:

اسوځیاتیو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$(A \cap B) \cap C = A \cap (B \cap C)$$

$$(A \cup B) \cup C = A \cup (B \cup C)$$

کموتاتیو یا بدلېدونکی قانون.

$$A \cap B = B \cap A$$

$$A \cup B = B \cup A$$

- Morgansche Regeln:
- د مورګان قانون یا قاعده

$$C \backslash (A \cap B) = (C \backslash A) \cup (C \backslash B)$$

$$C \backslash (A \cup B) = (C \backslash A) \cap (C \backslash B)$$

- دیستریبوتیو قانون.

$$(A \cap B) \cup C = (A \cup C) \cap (B \cup C)$$

$$(A \cup B) \cap C = (A \cap C) \cup (B \cap C)$$

دا قوانین د منطیقي قوانینو په کوته کونه هم ده، که د $\cup, \cap$ عملیو په ځای $\wedge, \vee$ کیږدې او $C\backslash$ په ځای $\neg$ کیږدو.

لیکونکي:هیولیګ،هیونر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نمونې په توګه به د دې مورګان لومړی قانون و ښوول شي. باور لري:

$$x \in C\backslash(A \cap B) \Leftrightarrow \qquad x \in C \wedge x \notin (A \cap B)$$

$$\Leftrightarrow x \in C \wedge (x \notin A \vee x \notin B).$$

د ډیستریبوتیو قاونو له مخې اخرنی افاده یا ویینه د لاندې سره برابرارزښته ده

$$(x \in C \wedge x \notin A) \vee (x \in C \wedge x \notin B) \Leftrightarrow x \in (C\backslash A \cup C\backslash B),$$

له کوم سره چې غوښتونکی کتمتوالی ښوول شوې.

لیکرنکی:ک. هیولیګ

د دې مورګان قاعدې له مخې د بیلګې په توګه لاس ته راځي

$$C \setminus (A \cap C) = (C \setminus A) \cup (C \setminus C) = (C \setminus A) \cup \emptyset = C \setminus A,$$

$$C \setminus (A \cup C) = \qquad (C \setminus A) \cap (C \setminus C) = (C \setminus A) \cap \emptyset = \emptyset.$$

د ډیستریبوتیو قانون د بېلګې په توګه لاس ته راځي:

$$(A \cup B) \cap B \quad = \qquad (A \cap B) \cup (B \cap B) = (A \cap B) \cup B.$$

له دې سره باور لري $(A \cap B) \cup B = B$ ، ځکه چې $(A \cap B) \subseteq B$ دی

## کارتېزي ضرب (ځل)

د دوه ډېریو $A$ او $B$ کاتېزي ضرب دواړو ډیریو د ټولو منظمو جوړو ډېری ده:

$$A \times B = \{(a,b):\ a \in A \wedge b \in B\}.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

باور لري:

$$(a,b) = (a',b') \Leftrightarrow (a = a' \wedge b = b')\,.$$

داپه دې معنا چې د ډېرى برابروالي ( $\{a,b\} = \{b,a\}$ ) په عکس يا په ځت د لړی پرلپسې غوره ده

په ورته تو ګه $n$ - واره يا ځله کارتېزي ضرب تعريفوو

$$A_1 \times \cdots \times A_n$$

د ټولو منظمو n - ګونونو $(a_1, \ldots, a_n)$ د $a_i \in A_i$ سره . که ډېرى برابرى وي، نوليکو:

$$A^n = A \times \cdots \times A$$

ليکونکي:هيوليک،هيورنر

## اړيکې Relation

که د ډېرى $A$ توکي د ډېرى $B$ له توکو سره په اړيکو کې قرار ولري يا ولاړې وي، نو کېدی شي دا د يوې اړيکې سره افاده يا وويل شي. دا د توکو له منظمو جوړو $(a,b)$ جوړه ده، چې دا د اړيکو له لارې سره تړلي دي. نو يوه اړيکه $R$ د $A$ او $B$ د کارتېزي ضرب برخډېری ده. وايو چې $a$ د $b$ سره په اړيکو کې ده او د دې لپاره ليکو $a\,\mathrm{R}\,b$ :

$$a\,\mathrm{R}\,b \Leftrightarrow (a,b) \in R \subseteq A \times B\,.$$

ليکونکي:ژ. هيورنر


(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اړیکو د داتا بانک Relationale Datenbank

یوه نمونه یي بېلګه د اړیکو د ،،داتا-بانک،، دی. دلته د بېلګې په توګه یو د درسونو (لکچرونو) جدول او یو د زده کړو جدول ورکول شوي چې یو له بل سره په اړیکو کې راغلي. دا په لاندې ځېره کې روښانه شوي.

په لاندې کې کیڼ لور ته نومونه دي

| Mtr.-Nr. | Name |
|---|---|
| 1000000 | Anton Antonius |
| 1000001 | Berta Bethel |
| 1000002 | Cornelius Cornell |
| 1000003 | Damian Damien |
| 1000004 | Egon Ekel |
| 1000005 | Frank Frankfurth |



| کوته | درس |
|---|---|
| V57.01 | لوړه شمیرپوهنه ۱ |
| V47.02 | د زده کوونکو... |

دا هم دلته روښانه شوي چې د یوې ډېرۍ توکي د بلې ډېرۍ د توکو سره په اړیکو کې راځي یا که غواړی :قرار لري.

لیکونکي: بوسلر، هیورنر

## د اړیکو خویونه

په یوه ډېرۍ $A$ کې یوه اړیکه $R \subseteq A^2$ په لاندې توګه بلل یا نمول کیږي:

رفلکسیو reflexiv ، که هر توکی د خپل ځان سره په اړیکه کې وي:

$$\forall a \in A : (a,a) \in R$$

سیومتري symmetrisch ، که د توکو لړۍ پرلپسې کوم رول نه لوبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$(a,b) \in R \Rightarrow (b,a) \in R$$

انتی سیمتري antisymmetrisch ، که که له سیمتري څخه کټمټوالی لاس ته راشي:

$$(a,b) \in R \wedge (b,a) \in R \Rightarrow a = b$$

ترانزتیوtransitiv ، که له یوه زنځی څخه منځنی توکی لرې کېدی شي:

$$(a,b) \in R \wedge (b,c) \in R \Rightarrow (a,c) \in R$$

ټوتالي total، که هر دوه توکي لږ تر لږه په یوه لور په اړيکو کې سره راتلی شي:

$$\forall a,b \in A : (a,b) \in R \vee (b,a) \in R$$

که یوه اړیکه رفلکسیو ، سیومتریک او ترانزیتیو وي، نو دا ،،ورته اړیکې،، (برابرارزښته اړیکي) بلل کیږي. دلته بیا زیات وخت $a \sim b$ د $a \mathrm{R} b$ په ځای لیکل کیږي. یو ورتهاړیکي ډېرۍ $A$ په توکي پردیو برخډېریو ویشي ( ورته یا برابر ارزښته ټولګیو)، د کوم سره چې د یوې برخډیرۍ دوه توکي یوبل سره په اړیکو کې دریږي( برابرارزښته دي). په داسې حالت کې چې دوه توکي له مختلفو برخډریو څخه داسې حالت نه لري.
که یوه اړیکه رفلکسیو، انتیسیمتري او ترانزیتیو وي، نو دا یو نیم نظم دی او د دې لپاره $a \le b$ د $a \mathrm{R} b$ په ځای لیکل کیږی. که یو نیم نظم د دې برسېره(سربېره) توتالي وي، نو دا (توتال) نظم بللکیږي او $A$ د $\le$ سره منظمه ده.

لیکونکی:ژ هیورنر

د یوې ډېرۍ $M$ پوتنځډېرۍ $\mathcal{P}(M)$ کې د ډېرۍ خوندیونه یا په کې ځایېدنه $\subseteq$ نیم نظم دی، څکهچې باور لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$A \subseteq A$ رفلکسیو انتیترانزیتیو $A \subseteq B \wedge B \subseteq A \Rightarrow A = B$ او ترانزیتیو $A \subseteq B \subseteq C \Rightarrow A \subseteq C$ قوانین. که $M$ له یوه زیات توکي ولري، نو خوندیونه نظم نه ی، څکه چې لاندې باور لري:

$$a, b \in M, a \neq b : \{a\} \not\subseteq \{b\} \wedge \{b\} \not\subseteq \{a\},$$

دا په دې معنا چې دا ټوټالي منظمه نه ده.

اړیکي ،، ټیک دومره توکي لري لکه،، د یوې پای ډېرۍ $M$ په تواندېرۍ کې $\mathcal{P}(M)$ برابرارزښته ده څکهچز باور لري : $|A| = |A|$ (رفلکسیو)، $|A| = |B| \Rightarrow |B| = |A|$ (سیومتري)، $|A| = |B| = |C| \Rightarrow |A| = |C|$ ( ترنزیتیو)

لیکونکی:ژ هیورنر

په یوې ډېرۍ باندې زیات وخت اړیکي یا په همدې ډول پرابرارزښته – اړیکې د توکو د خویونو له لارط تعریفیږي. د بېلګې په توګه دوه اړیکي په


$$M = \{1, 2, \ldots, 12\}$$

کې ترځېړنې لاندې نیسو:

لومړی $x\ R_1\ y$ : $x$ او $y$ یو ګډ پروېشونی (مقسوم علیه مشترک) $\neq 1$ لري .

دویم $x\ R_2\ y$ : $x$ او $y$ برابرډېر پروېشوني لري

(c) ketabton.com: The Digital Library




ځیرونه یا یا تابع(بلواک) د $M \times M$ برخدېریو په ځیر د اړیکو ګراف ښايي .
اړیکې $R_1$ سیومتریک او رفلکسیو دي، مګر نه ترانزیتیو. د بیلګې په توګه $x = 4$ او $y = 6$ کډ پروپښونی 2 لري او $y = 6$ او $z = 9$ کډپروپښونی 3 لري، مګر $x = 4$ او $z = 9$ کډ پروپښونی نه لري. نو

$$(xR_1y \wedge yR_1z) \Rightarrow xR_1z$$

باور نه لري.

اړیکې برابرارزښت –اړیکې دي. رفلکسیویتي، سیومتري او ترادزیتیویتي په ځرګنده توګه پوره دي. برابرارزښته –ټولګې

دي د یوه، دوه، درې ځلور او شپږ پروپښونو سره.

لیکونکې: هیلیګ،کرایخ

## فنکشن (بلواک یا تابع)

د یوه فنکشن $f$ لاندې له یوې ډېرې $A$ په یوه ډېرې $B$ باندې یوه قانونمندي پوهیږو، چې هر $a \in A$ توکی په یواځني ډول یو ټاکلي $b = f(a) \in B$ باندې تنظیم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$f : A \longrightarrow B \, .$$


د توکو- نظم لپاره لاندې ليکندود استعماليږي

$$a \mapsto b = f(a)$$

او $b$ د $a$ څېرې يا ارزښت په حيث بلل کيږي او همداسې $a$ د $b$ (د پخوا څېرې)د تعريف توکي په څېر بلل کيږي.

لکه د لاندې څېرې څخه چې کتل کيږي، بايد د $B$ توکي د $A$ د يوه توکي د څېرې توکي په توګه رامنځ ته شي او د $B$ يو توکی کېدی شي د $A$ د ډېرو توکو څېره يا نظم وي. په هر حالت بايد د $A$ د هرتوکی لپاره په يواځني توګه يوه څېره شتون ولري، دا په دې معنا چې له هر $a$ څخه بايد يو غشی وتلی وي.

پيژندل کيږي چې څېره زيات تعريفتوکي يا د څېرې پخوانۍ يا نوره هم ښه مخکنۍ لري( دا په دې معنا چې څېره کېدونکی دی)، دلته د بيلګې په توګه $a$ او $a'$. د څېرونی لپاره کليمه فنکشن هو کارول کيږي، په ځانګړې توګه په ريل ا حقيقي او کمپلکس اناليوزې کې.




ليکونکي: هيوليک،هيورنر،کيمرلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تابع یا خیروني یا بلواک(تابع) خویونه

د دوه ډېريو $A$ او $B$ ترمنځ یوه تابع

$$f : A \longrightarrow B$$


داسې یا په لاندې تګه بلل کیږي:

په کې بلواک injektiv : که د هر $a, a' \in A$ لپاره د $a \neq a'$ سره دا $f(a) \neq f(a')$ صدق وکړي.

په باندې (بلواک) surjektiv : که هر $b \in B$ لپاره یو $a \in A$ شتون ولري د $f(a) = b$ سره.

په (بلواک) bijektiv : که (تابع) $f$ په کې او په باندې وي.


دا کلیمې کېدی شي د ډېری دیاګرام له لارې روښانه شي.



injektivپه کې surjektivپه باندې bijektivپه


د یو څو بلواکو(توابعو) $f : \mathbb{R} \rightarrow \mathbb{R}$ خویونه ورکړ شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library





weder injektiv, noch surjektiv

نه په کې او نه په باندې





surjektiv, aber nicht injektiv

په باندې، مگر نه په کې




nicht surjektiv, aber injektiv

، نه په باندې مگر په کې




bijektiv, d.h. injektiv und surjektiv

په، دا په دې معنا چې په کې او په باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د فنکشنونو (بلواکو یا توتبعو) ترڼه یا عملیې

Verknüpfung von Abbildungen

د دوه فنکشنونو $f : A \to B$ او $g : B \to C$ ترڼه یا کمبوزیشن (زنځیرونه یا سره ګډ ایښونه) د

$$a \mapsto (g \circ f)(a) = g(f(a)), \quad a \in A,$$

له لارې تعریف شوی او په لاندې دیاګرام کې لیدوړ ګرځېدلی.




تابع اسوځیاتیو ده، دا په دې معنا چې $\circ$ ترڼه

$$(h \circ g) \circ f = h \circ (g \circ f)$$

صدق کوي، مګر په ځرګند ډول کموتاتیو نه ده. .

لیکونکی: هیولیک، کنش


## په څټ یا برعکس فنکشن (بلواک یا تابع)Inverse Abbildung

د یوه په فنکشن یا تابع $f : A \to B$ لپاره د

$$b = f(a) \Leftrightarrow a = f^{-1}(b)$$

له لارې په څټ فنکشن یا برعکس تابع $f^{-1} : B \to A$ تعریف ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library




په ځانګړې توګه $a = f^{-1}(f(a))$ دی، داپه دې معنا چې $f^{-1} \circ f$ کټمټ یا ورته تابع دی.

لیکونکي: هیولیګ، کنش

## فاکولتې یا فکتوریل Fakultät

د لومړیو $n$ طبیعي اعدادو یا ګڼونو ضرب د

$$n! = 1 \cdot 2 \cdots n$$

سره په نخښه کیږی. ( لوستل یې : $n$ فاکولتې). له دې سره کلک تړلی یا له دې سره ه کلکه په نړاو کې تش ضرب داسې لیکو: $0! = 1$ .

ګڼ یاعدد $n!$ د $n$ مختلو شیانو دمختلفو امکاناتو د ترتیب یا نظم ګڼون یا تعداد ر ښایي

د لوی $n$ لپاره د $n!$ اسیپتوتیکي حالت د سترلینګ Stirlingschen فرمول له لارې په ورته نږدې ډول وښوول شي:

$$n! = \sqrt{2\pi n}\left(\frac{n}{e}\right)^n \left(1 + O(1/n)\right).$$

لیکونکي: هیولیګ،هیورنر

## د بینوم ضریبونه (ځلووني) Binomialkoeffizient

(c) ketabton.com: The Digital Library

د $n, k \in \mathbb{N}_0$ لپاره د $n \geq k$ سره د بینوم ضریبونه تعریفوو:

$$\binom{n}{k} = \frac{n!}{(n-k)!k!} = \frac{n(n-1)(n-2)\cdots(n-k+1)}{1\cdots(k-2)(k-1)k}.$$

د $0! = 1$ له امله په ځانګړې توګه باور لري:

$$\binom{0}{0} = 1, \quad \binom{n}{n} = \binom{n}{0} = 1.$$

د بینومي ضریب $\binom{n}{k}$ د $n$ توکو سره یوې ډېرې د $k$ - توکیزو برخډېریو ګڼون یا تعداد ورکوي.

## د پاسکال درېګودی(مثلث) Pascalsches Dreieck

د بینوم ضریبونه

$$\binom{n}{k} = \frac{n!}{(n-k)!\,k!}$$

د لاندې رېکورزیون Rekursion (په بېرته معلومو فرمولونو) په مرسته

$$\binom{n+1}{k} = \binom{n}{k-1} + \binom{n}{k}$$

په یوه درېګډیزې شیما یا شکل، داسې په نامه پاسکال درېګودي کې یا له لارې وشمېرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$
\begin{array}{c|ccccccccccc}
\binom{0}{k} & & & & & & 1 & & & & & \\
\binom{1}{k} & & & & & 1 & & 1 & & & & \\
\binom{2}{k} & & & & 1 & & 2 & & 1 & & & \\
\binom{3}{k} & & & 1 & & 3 & & 3 & & 1 & & \\
\binom{4}{k} & & 1 & & 4 & & 6 & & 4 & & 1 & \\
 & \swarrow & & \searrow + \swarrow & & \searrow + \swarrow & & \searrow + \swarrow & & \searrow + \swarrow & & \searrow \\
\binom{5}{k} & 1 & & 5 & & 10 & & 10 & & 5 & & 1 \\
 & & & \vdots & & \vdots & & \vdots & & \vdots & &
\end{array}
$$

.

ليکونکي: هيوليک، کنش

دا د ښوولو کټمتوالی

$$\frac{(n+1)!}{(n+1-k)!\,k!} = \frac{n!}{(n-k+1)!\,(k-1)!} + \frac{n!}{(n-k)!\,k!}$$

د $n!$ سره وېشني او $(n-k+1)!\,k!$ سره ضربوني له لارې د

$$n+1 = k + (n+1-k)\,.$$

سره برابرارزښته دی.

ليکونکي: هيوليک، کنش

## د بينوم درسي جمله Binomischer Lehrsatz

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بینوم درسي جملې سره کېدی شي د دوه متحولو يا اووښتونو د زياتون يا جمعې توان وشمېرل شي.

د ټولو $n \in \mathbb{N}_0$ لپاره صدق کوي:

$$(a+b)^n =$$

$$a^n + \binom{n}{1} a^{n-1}b + \binom{n}{2} a^{n-2}b^2 + \cdots + \binom{n}{n-1} ab^{n-1} + b^n$$

$$= \sum_{k=0}^{n} \binom{n}{k} a^{n-k}b^k.$$

په ځانګړي توګه د $n = 2, 3$ لپاره:

$$(a+b)^2 = a^2 + 2ab + b^2,$$

$$(a+b)^3 = a^3 + 3a^2b + 3ab^2 + b^3.$$

د بینوم جمله کیدی شي د پوره ایدکشن له لارې وښول شي.

د $n = 0$ او $n = 1$ لپاره کتمتوالی د

$$\sum_{k=0}^{0} \binom{0}{k} a^{0-k}b^k = \binom{0}{0} a^0b^0 = 1, \quad \sum_{k=0}^{1} \binom{1}{k} a^{1-k}b^k = a + b$$

له امله د په خوښه $a$ او $b$ لپاره رښتیا یا ټیک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیسو چې د $n$ لپاره صدق کوي. نو دی:

$$(a+b)^{n+1}$$

$$= (a+b)(a+b)^n = (a+b)\sum_{k=0}^{n}\binom{n}{k}a^{n-k}b^k$$

$$= \sum_{k=0}^{n}\binom{n}{k}a^{n-k+1}b^k + \sum_{k=0}^{n}\binom{n}{k}a^{n-k}b^{k+1}$$

$$=$$

$$= a^{n+1} + \sum_{k=1}^{n}\binom{n}{k}a^{n-k+1}b^k + \sum_{k=0}^{n-1}\binom{n}{k}a^{n-k}b^{k+1} + b^{n+1}$$

$$= a^{n+1} + \sum_{k=1}^{n}\binom{n}{k}a^{n-k+1}b^k + \sum_{k=1}^{n}\binom{n}{k-1}a^{n-k+1}b^k + b^{n+1}$$

$$= a^{n+1} + \sum_{k=1}^{n}\left[\binom{n}{k}+\binom{n}{k-1}\right]a^{n+1-k}b^k + b^{n+1}$$

$$= \sum_{k=0}^{n+1}\binom{n+1}{k}a^{n+1-k}b^k$$

د بینوم ضریبونو لپاره کتمتوالی Identitäten für Binomialkoeffizienten

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بينوم ضريبونو لپاره لاندې کتوتوالی صدق کوي:

$$2^n = \sum_{k=0}^{n} \binom{n}{k},$$

$$0 = \sum_{k=0}^{n} \binom{n}{k} (-1)^k, \quad n \geq 1,$$

$$\binom{n}{k} = \sum_{i=0}^{k} \binom{n-k-1+i}{i}, \quad k < n,$$

$$\binom{n}{k} = \sum_{i=0}^{n-k} \binom{k-1+i}{i}, \quad k > 0.$$

ليکونکي: هيوليک، هيورنر

لومړي دواړه کتمتوالي ترلي د بينوم د درسي ځخه لاس ته راځي،

$$(a+b)^n = \sum_{k=0}^{n} \binom{n}{k} a^{n-k} b^k,$$

د ارزښتونو $a = b = 1$ همداسې $a = -b = 1$ سره .

دريم کتوتوالی د ريکورزين فرمول په بيا بيا استعمال له لارې لاس ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


$$\begin{aligned}
\binom{n}{k} &= \binom{n-1}{k} + \binom{n-1}{k-1} \\
&= \binom{n-1}{k} + \binom{n-2}{k-1} + \binom{n-2}{k-2} \\
&= \dots \\
&= \binom{n-1}{k} + \binom{n-2}{k-1} + \dots + \binom{n-k-1}{0} \\
&= \sum_{i=0}^{k} \binom{n-k-1+i}{i}.
\end{aligned}$$

په  دې مساواتو کې د   په ځای اینولو یا سبستیچیشن Substitution

$(n-k) \leftrightarrow k$

له لارې  ځلورم کتمتوالی لاس ته راځي.

دا اخرني  دواړه کتوتوالي کېدی شي په پاشکال درېګوډي کې  جمعه کوني  لخ لارې انځور شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ډېريو يا سټونوکمبيناتوريک Kombinatorik von Mengen

( د کمبيناتوريک د نورې زياتې کتنې لپاره دې زما دشميرپوهنې ستر کتاب وکتل شي)

لاندې جدول د مختلفو امکاناتو ګڼون يا تعداد ورکوي، چې د يوې د $n$ مختلفو توکو سره ډېرۍ ځخه $k$ ټوکي ټاکلی شو، د کوم سره چې بايد توپير شي، چې ايا د لړی پرلپسې يو رول لري ( ترتيبونه) او تکرار ونه په کې اجازه لري که نه.

| | sortiert<br>منظم(د ټاکلو اړخونو له لارې) ترتيب | nicht sortiert<br>نا متظم |
|---|---|---|
| له تکرار سره | $n^k$ | $\binom{n+k-1}{k}$ |
| بې له تکرار سره | $n(n-1)\cdots(n-k+1)$ | $\binom{n}{k}$ |

ليکونکي: هيوليک،کنش

لومړی : نا ترتيب يا نا منظم ټاکنه بې له تکرار ځخه

که د لړی پرلپسې په پام کې ونيو لي، نو د لومړي ځل لپاره $n$ امکانات شتون لري، $(n-1)$ امکانات د دويم لپاره ، تر $(n-k+1)$ امکاناتو پورې د $k$-م توکي لپاره، نو په ټوليزه توګه

$$n(n-1)\cdots(n-k+1)$$

امکانات شتون لري.

دا بايد د ګڼون يا تعداد $k!$ سره وه وېشل شي چې د $k$ توکو پرموتيشن ( د توکو ځای بدلون : لنډ: ځای بدلون) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم : ناتتيب شوي انتخاب د تکرار سره

يو برابرارزښته پرابلم دادی، چې $n-1$ په نځښه شوې ( نشاني شوي) د $n+k$ ټکو تر منځ ځای په ځای شي.

$$\bullet \mid \bullet \mid \bullet \mid \bullet \mid \bullet \mid \bullet \mid \bullet \mid \bullet$$

$$\triangle \quad \triangle \qquad \triangle \quad \triangle$$

د $(i-1)$ -م او $i$ -م ترمنځ ټکو تعداد چې په $1$ کم شوی د $i$–م توکي تکرارونو سره برابر دی. د لومړي سره سم د ممکنه په نخښه کيدونو تعداد لپاره لاس ته راځي

$$\binom{n+k-1}{n-1},$$

کوم چې په جدول کې ورکړ شوي عدد سره سر خوري.





دريم : د تتيب شوي انتخاب لپاره فرمول پسې تړلی لاس ته راځي.

ليکونکي:هيوليک، کنش

په يوه مرتبان کې يو سور يو شين او يو اسماني توپونه (غونډوسکې) پراته دي. په جدول کې د دوه واره راوستنې د امکاناتو تعداد کتل کيږي ( $k=2,\ n=3$ ).

| ناترتيب شوي يا نامنظم | ترتيب شوي | |
|---|---|---|
| $\binom{n+k-1}{k}$ | $n^k$ | د تکرار سره<br>(دبېرته وراچونې سره) |


(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| |  |  |
| | $3^2 = 9$ | $\binom{3+2-1}{2} = 6$ |
| بې د تکرار سره (نه دبېرته وراچوني سره) | $n(n-1)\cdots(n-k+1)$ | $\binom{n}{k}$ |
| |  |  |
| | $3 \cdot 2 = 6$ | $\binom{3}{2} = 3$ |

ليکونکي:هيوليک، کنش

## د موټر نمره Autokennzeichen

د يوه الماني موټر نمره د ايالت يا ښار لپاره د $\leq 3$ تورو کمبينېشن ، د $\leq 2$ نورو تورو او تر يوه څلورځايز عدد څخه د بېلګي په توګه :



(c) ketabton.com: The Digital Library

له $n$ تورو څخه $26^n$ کمبینېشنونه شتون لري او له دې سره

$$(26 + 26^2 + 26^3) \cdot (26 + 26^2) \cdot 9999 = 1.28 \cdot 10^{11}$$

ممکنه نمرې ( که د ښار یا ایالت د ورسره ور ګډونه په پام کې ونه نیول شي

لیکونکي:هیولیګ، کنش

## پوښتنې


- د ښه بدلون او همداسې د رښتیا جدول سره و و زامیی، چې ایا افادې یا ویېنې تل ټیک دي یعني Tautologien دي:

$$(A \vee B) \Rightarrow ((\neg A \vee B) \wedge (A \Rightarrow \neg A))$$

$$(A \Rightarrow (B \Rightarrow C)) \Leftrightarrow ((A \wedge B) \Rightarrow C)$$ پای.

- اړیکې $\Box$, $\Diamond$ د ډېرې پوهنې څخه د منطقي علیو $\{\wedge, \vee, \Rightarrow\}$ لپاره ځای په ځای شوي. په کومو حالتونو کې باور لري:

- محامخ سویچونه(شالتونګونه) ساده کړی:



(c) ketabton.com: The Digital Library

- ډېرى $A, B \neq \emptyset$ ، يوه تابع $f : A \rightarrow B$ همداسې برخډېرى $U, V \subset A$ او $X, Y \subset B$ ورکړ شوي دي. د لاندې اړيکو رښتياوالى همداسې نارښتياوالى د يوې مناسبې برعکس بېلګې په مرسته وښايى:

الف- $f(U \cup V) = f(U) \cup f(V)$ ب - $f(U \cap V) = f(U) \cap f(V)$

پ - $f^{-1}(X \cup Y) = f^{-1}(X) \cup f^{-1}(Y)$

ت - $f^{-1}(X \cap Y) = f^{-1}(X) \cap f^{-1}(Y)$

- د يوه تابع $f : \mathbb{R} \longrightarrow \mathbb{R}$ په هکله لاندې وېناوې په فورمال ليکندود افاده کړى:

الف - fپه باندې نه دى ب - f په کې نه دى

پ – f په نه دى ت – fنه په کې او نه په باندې دى

ليکونکى: کريستيا اپيپېښ

- د $n \in \mathbb{N}$ لپاره د پوره ايدکشن له لارې وښايى:

$$\sum_{k=1}^{n} k^3 = \frac{n^2(n+1)^2}{4}$$ **a)**

$$\sum_{k=1}^{n} \frac{1}{k(k+1)} = \frac{n}{n+1}$$ **b)**

- د $n \in \mathbb{N}$ لپاره د پوره ايدکشن له لارې وښايى:

الف : $a_n = n^3 + 5n$ په 6 وېشونى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب : $b_n = \frac{n}{3} + \frac{n^2}{2} + \frac{n^3}{6}$ یو طبیعي عدد دی.

- په یوه میلمستیا کې 25 کسان سره یوځای کیږي. څومره لاسونه سره ورکول کیږي، که هر میلمه هر بل مېلمه ته لاس ورکړي. .


د شمیرپوهنې له لومړني کورس څخه

- و ښایې:

$$\sum_{k=0}^{n} \binom{m+k}{k} = \binom{m+n+1}{n}$$ **a)**

$$\sum_{\ell=1}^{n} \binom{n+k-\ell}{k} = \binom{n+k}{k+1}$$ **b)**

لاس ته راونې یې په پاسکال درېګوډي کې انځور کړی. لیکونکی: کلاوس هیولیګ

| | |
|---|---|
|  | - په یوه د کارتو لوبه کې چې له 32 کارتو جوړه ده(8 ارزښتونه 4 رنګونه ) څومره امکانت شته دی، چې فول هوز Full Haus (درې برابرارزښته او دوه برابر ارزښته ) کارتې لاس ته راوړل شي؟<br><br>د دې لپاره څومره امکانات شته چې دا څېره شوي کارتې د دوه کارتو بدلولو سره یو پوکر( څلور برابر ارزښتونه) لاس ته راوړای شي؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازماښت Test

لومړۍ پوښتنه:

د لاندې منطقي ابادې رښتیا ارزښت پیدا کړئ

$$D: \ (A \Rightarrow B) \wedge (\neg C \vee A)$$

چې د ویناو $A, B, C$ د رښتیا ارزښتونو تابع یا په واک کې وي.

هر ځل یا'w' او یا 'f' ورکړئ.

دویمه پوښتنه:

ډېرئ $A = \{1,2,3,4,5\}$ او $B = \{4,5,6,7\}$ ورکړئ.

په ګوته کړئ، چې ایا لاندې ویناوې رامنځ ته کیږي که نه(J د هو لپاره او N د نه لپاره)

دریمه پوښتنه:

د دوه هره یوه د درې توکیزه ډېریو $A$ او $B$ ترمنځ څومره اړیکې شتون لري؟

له ې څخه څومره بلواک یا تابع دي او څومره بلواک یې په باندې(سورجکتیو) دي؟

څلورمه پوښتنه:

و څېړئ چې ایا لاندې توابع یا بلواک $f: \mathbb{R} \to \mathbb{R}$ په باندې، په کې او په دي:

$$\textbf{a)} \quad f(x) = x \sin x \qquad \textbf{b)} \quad f(x) = \exp\left(-x^3 + 1\right)$$

$$\textbf{c)} \quad f(x) = x \ln \frac{1}{|x| + 1}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځمه پوښتنه:

ځومره پنځه ځایزه ګنونه یا عددونه شتون لري  د لاندې سره


الف:  پنځه مختلف  عددونه

ب )  تیک دوه جوړه عددونه

شپږمه پوښتنه:

څومره امکلنات شتون لري، چې  ناه کسان په درېیز ګروپ ووېشو؟

## تابع   یا فنکشن  یا بلواکFunktion

| | |
|---|---|
| یو فنکشن<br>$f: D \to \mathbb{R}, \quad x \mapsto f(x)$<br>هر  د تعریفورشو $D \subseteq \mathbb{R}$ هر<br>توکی $x$ په یوه د ارزښت<br>ورشو $W \subseteq \mathbb{R}$ په  یوه توکي<br>$f(x)$ باندې تنظیموي..<br>د  فنکشن یا بلوتک $f$ ګراف  له<br>تکو $(x,y)$ جوړ دی  د<br>$y = f(x)$ سره. |  |

لکه د تابع څخه چې لیدل کیږي، د تعیف ورشو (روڼ شین) او د ارزښت ورشو( تیاره خړ) د $x$ – محو ر همداسې د $y$ -محور پرېوستونونه  Projektionen دي.

د دې لپاره چې د تابع

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$f(x)=\frac{\ln(3-x)}{\sqrt{x}-1}$$

تعريف ورشو او ارزښت ورشو وټاکو، باید په ساده تابع رامنځ ته شوي بنديزونه په پام کې ونيسو. د لوگاريتم ارگومنت باید مثبت(زياتيز) وي:


يعني $3-x>0$ او $x\geq 0.$

په هر حالت مخرـ(ماتلاندې) بای صفر نه شي، دا په دې معنا چې $x\neq 1$.

په ټوليزه توگه لاس ته راځي:

$$\mathrm{D}=[0,3)\backslash\{1\}=[0,1)\cup(1,3).$$

د $f$ ارزښت د رسم سره روښانه یا واضح کیږي.




دا چې $f$ د $x\in(1,3)$ لپاره د $-\infty$ او $+\infty$ ترمنځ ټول ارزښتونه نيسي یا اخلي، نو باور لري. $W=\mathbb{R}$

ليکونکي:هيوليک،هيورنر،کنش

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې جدول د څو بنسټيزو بلواک يا توابعو د تعريف - او ارزښت ورشو  بنايي:

| $f(x)$ | $D$ | $W$ |
|---|---|---|
| $1/x$ | $\mathbb{R}\setminus\{0\}$ | $\mathbb{R}\setminus\{0\}$ |
| $\ln x$ | $(0,\infty)$ | $\mathbb{R}$ |
| $\tan x$ | $\mathbb{R}\setminus\{x\,:\,x=(2k+1)\pi/2,\ k\in\mathbb{Z}\}$ | $\mathbb{R}$ |
| $\sqrt{x}$ | $[0,\infty)$ | $[0,\infty)$ |

ليکونکي:هيوليک،هيورنر،کنش


## کرښيز فنکشنونه    Lineare Funktion

د يوه کرښيز فنکشن

$$f(x) = ax + b$$

ګراف يوه کرښه ده د $a$ جګېدنې

سره او د $y$ -محورغوځې $b$ سره.




الترناتيو يا بديلې انځورونې يې تکې-جګېدنې-بڼه

$$\frac{y - y_0}{x - x_0} = a$$

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د دوه -ټکو-بڼه

$$\frac{y-y_0}{x-x_0}=\frac{y_1-y_0}{x_1-x_0},$$

دي ، د کوم سره چې $(x_0,y_0)$ او $(x_1,y_1)$ په کرښه ټکي دي.

ليکونکي:هيوليک،هيورنر

تابع د کرښيزو فنکشنونو مختلفو انځورونو بڼې ښايي يا په نخښه کوي.




## مربعيز فنکشنونه Quadratische Funktion

د يوه مربعيز تابع ګراف

$$f(x)=ax^2+bx+c$$

يو د


(c) ketabton.com: The Digital Library

$$y = a(x - x_0)^2 + y_0$$

د بڼي پارابول دی د ککرې

$$(x_0, y_0) = \left(-\frac{b}{2a}, -\frac{b^2}{4a} + c\right).$$

سره.




## مایل ګوزار یا – غورځونه Schräger Wurf


که یو تن د کونج $\varphi$ لاندې د یوې چټکتیا $v$ سره وغورځول شي، نو د الوتنې لار یې یو پارابول

$$y = x \tan\varphi - \frac{g}{2v^2 \cos^2\varphi} x^2$$

ښايي ، چېرته چې $g$ د ځمکې بيړه(تعجيل) ده.

مایله ګوزارونه یا –غورځونه د v=6 سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library




مساوات د برابردولیز خوزښت څخه لاس ته راځي د پیل چټکتیا $v$ سره په $x$ - او $y$ -کمپوننتونو یا برخو او د همدې وخت د ازادې غورځونې بیړه ییز خوزښت سره.:

$$x(t) = vt\cos\varphi \quad \Rightarrow \quad t = \frac{x}{v\cos\varphi}$$

$$y(t) = vt\sin\varphi - \frac{1}{2}gt^2$$

$$\Rightarrow \ y(x) = \frac{vx\sin\varphi}{v\cos\varphi} - \frac{gx^2}{2v^2\cos^2\varphi} = x\left(\tan\varphi - \frac{gx}{2v^2\cos^2\varphi}\right).$$

د غورځوني واټن دی:

$$x = \frac{2v^2\cos^2\varphi}{g}\tan\varphi = \frac{v^2}{g}\sin(2\varphi)\,.$$

دا د $\varphi = \pi/4 \mathrel{\widehat{=}} 45°$ لپاره ماکسیمال کیږي.

لیکونکي: هیورنر،هیولیک،کنش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پولينوم Polynom

يو د $n$-م دجي پولينوم $p$ په لاندې بنه ليکل کيږي:


$$p(x) = a_0 + a_1 x + \cdots + a_n x^n$$

د $a_n \neq 0$ سره .

اووښتوني يا متحوله $x$ او ضريبونه $a_k$ کېدی شي ريښتونی ( حقيقی) يا کمپلکس عددونه وي. په اړونده توګه له دې امله له حقيقی همداسې کمپلکس پولينومونو غږيږو.

ليکونکي:هيوليک،هيرنر

لاندې توابع مکعبي $n = 3$ او مربعيز $n = 4$ پولينومونه په ګوته کوي، د خرنګوالي (کواليټي) مختلف تابع ګراف سره




ليکونکي: هيورنر،هيوليک،کنش

(c) ketabton.com: The Digital Library

## راشنل فنکشن یا بلواک(تابع) Rationale Funktion

یو نسبتي تابع  د صورت(ماتباندي) درجې $m$ او مخرج(ماتلاندي) درجې $n$ سره یو  د دوه پولینومونو ویش دی.


$$r(x)=\frac{p(x)}{q(x)}=\frac{a_0+a_1x+\cdots+a_mx^m}{b_0+b_1x+\cdots+b_nx^n}\,.$$

دا انځورونه  ناوېشوړ  irreduzibel  بلل کیږي، که $p$ او $q$ کوم ګډ کربنيز ضریب ونه لري.

د مخرج صفرځايونه  راشنل تابع $r$ د تعریف تشیاوې دي او د پول ځايونو په نامه یادیږي. د دوی  نظم د صفرځايونو دپرځلوالی دی.

د  اووښتوني یا متحولي $x$ او ضریبونه $a_k$, $b_k$ کېدی شي حقیقي یا کمپلکس عددونه وي. په اړونده توګه د حقیقي یا کمپلکس رېښتوني فنکشن څخه غږیږو.

لیکونکي:هیولیک، اپپ

| | |
|---|---|
| فنکشن<br>$f(x)=\frac{x^4}{(x+1)(x-1)^2}$<br>په $x=-1$ کي یو ساده قطب لري او<br>په $x=1$ کي دبل قطب  لري |  |

د تابع څخه پژندل کیږي، چې $f$ په یوه ساده قطب کې  مخنخښه بدلوي او  په دبل قطب کې مخنخښه نه  تغیروي.        لیکونکي:هیولیک، اپپ


(c) ketabton.com: The Digital Library


## ساین او کوساین Sinus und Kosinus

د

$$(\cos t, \sin t), \quad t \in \mathbb{R}$$

سره کواودینات چې په سرچينه کې په کونج $t$ ځرخول شوی ټکی $(1,0)$ په نخښنه کيږي.




دواړه د ګردی يا دايرې توابع کوسان او ساين $2\pi$ - پريوديکي (تل بېرته راګرځېدوني) دي او باور لري


- $\cos t = \sin(t + \pi/2)$ ,
- $\cos t = \cos(-t), \quad \sin t = -\sin(-t)$ ,

$$\sin^2 t + \cos^2 t = 1$$

د تر مختخبني پوري د دايرې تابع د ولاړکوډيز دربېکوډي( قايمالزايه مثلث) د قطر (نيمي) سره چې ا وړدوالی يې 1 دی دو لاړو (عودو) ضلعو اوږدوالی ښايي. يو ځو ځانګړي ارزښتونه يې دي:

| | $0$ | $\frac{\pi}{6}$ | $\frac{\pi}{4}$ | $\frac{\pi}{3}$ | $\frac{\pi}{2}$ |
|---|---|---|---|---|---|
| sin | $0$ | $\frac{1}{2}$ | $\frac{1}{2}\sqrt{2}$ | $\frac{1}{2}\sqrt{3}$ | $1$ |
| cos | $1$ | $\frac{1}{2}\sqrt{3}$ | $\frac{1}{2}\sqrt{2}$ | $\frac{1}{2}$ | $0$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




د دې لپاره چې د ښېره شوي درېګوډي د سطه وتاکلی شو، لومړی جګوالی $h_b$ شمېرو:

$$\sin\gamma = \frac{h_b}{a} \Rightarrow h_b = a\sin\gamma\,.$$

له دې سره لاس ته راځي:

$$F = \frac{1}{2}ab\sin\gamma\,.$$

د ورکړ شوو ارزښتونو لپاره لاس تخ راځي:

$$F = \frac{1}{2}\cdot 5\cdot 4\cdot\frac{\sqrt{3}}{2} = 5\sqrt{3}\,.$$

د ساین او کوساین لپاره د جمعي جمله(قضيه)

د داېرې توابعو $\sin t$ او $\cos t$ لپاره لاندې اړيکې صدق کوي:

- $$\cos(\alpha+\beta) = \cos\alpha\cos\beta - \sin\alpha\sin\beta$$
- $$\sin(\alpha+\beta) = \sin\beta\cos\alpha + \sin\alpha\cos\beta$$

په ځانګې توګه

$$\cos(2\alpha) = \cos^2\alpha - \sin^2\alpha, \qquad \sin(2\alpha) = 2\sin\alpha\cos\alpha.$$

ليکونکی.ژ.هيورنر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تابع

$$u(t) = \cos(w_1 t) + \cos(w_2 t)$$


اړيکي د دوه لړزېدنو يو ځای رامنځ ته کېدنه روښانه کوي. د جمعي قضيې په مرسته کېدی شي انځورونه ساده شي. د $\overline{w} = \frac{1}{2}(w_1 + w_2)$ او $\Delta w = |w_1 - \overline{w}|$ سره له

$$\cos(\overline{w} - \Delta w t) = \cos(\overline{w}t)\cos(\Delta w t) + \sin(\overline{w}t)\sin(\Delta w t)$$

$$\cos(\overline{w} + \Delta w t) = \cos(\overline{w}t)\cos(\Delta w t) - \sin(\overline{w}t)\sin(\Delta w t)$$

ځخه لاس ته راځي، چې

$$u(t) = 2\cos(\overline{w}t)\cos(\Delta w t)\,.$$



(c) ketabton.com: The Digital Library

بلواک د $w_1 = 7$, $w_2 = 5$ لپاره لړځېدنه ښايي، دا په دې معنا چې $\overline{w} = 6$. ,
او $\Delta w = 1$

$$u(t) = 2\cos(6t)\cos t\,.$$


ليکونکي:هيوليک،کرايخ


## تانجنت او کوتانجنت

توابع تانجنت او کوتانجنت د


$$\tan t = \frac{\sin t}{\cos t}, \quad \cot t = \frac{\cos t}{\sin t}$$

سره تعريف شوي. دا په ولاړګوديز درېګوډي (قايوم الزاويه مثلث) کې د تر مخنخښې پورې د ولاړو اړخونو تناسب ورکوي




Tangens





Kotangens

يو څو ځانګړي ارزښتونې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | 0 | $\frac{\pi}{6}$ | $\frac{\pi}{4}$ | $\frac{\pi}{3}$ | $\frac{\pi}{2}$ |
|---|---|---|---|---|---|
| tan | 0 | $\frac{1}{3}\sqrt{3}$ | 1 | $\sqrt{3}$ | nicht def. |
| cot | nicht def. | $\sqrt{3}$ | 1 | $\frac{1}{3}\sqrt{3}$ | 0 |

تابع د شکل له مخې یو د برېښنا مخروط ، چې په یوه ولاړ دېوال پرېوځي ښايي




د دې لپاره چې خورا لوي یا ماکسیمال پوسېده د تاکلی شو، جوړوو

$$\frac{h}{10} = \tan(\frac{\pi}{4} - \frac{\pi}{12}) = \tan\frac{\pi}{6} = \frac{1}{3}\sqrt{3}$$

$$\frac{x+h}{10} = \tan(\frac{\pi}{4} + \frac{\pi}{12}) = \tan\frac{\pi}{3} = \sqrt{3}.$$

که $h = \frac{10}{3}\sqrt{3}$ په دویم مساوات کې ځاېه ځای کړوو نو لاس ته راځي

$$\frac{x}{10} = \sqrt{3} - \frac{1}{3}\sqrt{3},$$

یعنې $x = \frac{20}{3}\sqrt{3}$

لیکونکي:هیولیک،کرایخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اکسپوننشل توابع(بلواک)

توان تابع

$$y = e^x = \exp(x)$$


د اویلرEulerschen عدد $e = 2.71828...$ سره اکسپوننشل تابع بلل کيږي. دا د

تولو $x \in \mathbb{R}$ لپاره مثبت(زاتیز) ده او فنکشنل مساوات

$$e^{x+y} = e^x e^y\ .$$

پوره کوي.

په خانګړې توګه دی $e^{-x} = 1/e^x$ .




ليکونکي:هیولیک،هیورنر

اکسپوننشل تابع د ډېرو بیولوژيکي پروسو زیاتوالی روښانه یا تشريح کوي.

د بیلګي په توګه د یوه ساده نفوس مودل متناسب دی د اوسنیو نفوس تعداد $p(t)$
سره د $t$ په وخت کې، دا په دې معنا چې

$$p(t + \Delta t) \approx p(t) + \Delta t(\lambda p(t))\ .$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د $0 \leftarrow \Delta t$ لپاره دا د ډېروالي قانو د $p(t)$ مودلی کیږي.

لاندې جدول د نړۍ نفوس ښايي د کلني ډېرېدنې سره.( اټکل ارزښت)


| Jahr<br>کال | Bevölkerungszahl<br>د نفوسو تعداد | اټکل ارزښت<br>Rate |
|---|---|---|
| 1950 | 2555078074 | 1.76 % |
| 1955 | 2779669781 | 1.87 % |
| 1960 | 3039332401 | 2.02 % |
| 1965 | 3345837853 | 2.16 % |
| 1970 | 3707610112 | 2.05 % |
| 1975 | 4088224047 | 1.80 % |
| 1980 | 4456705217 | 1.79 % |
| 1985 | 4854602890 | 1.77 % |
| 1990 | 5283755345 | 1.54 % |
| 1995 | 5690865776 | 1.37 % |
| 2000 | 6080141683 | 1.25 % |
| 2005 | 6460553564 | 1.12 % |
| 2010 | 6823634553 | 1.03 % |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| 2015 | 7175675066 | 0.95 % |
| 2020 | 7518010600 | 0.86 % |
| 2025 | 7840660355 | 0.76 % |
| 2030 | 8140344240 | 0.68 % |
| 2035 | 8416742278 | 0.60 % |
| 2040 | 8668391454 | 0.53 % |
| 2045 | 8897073495 | 0.47 % |
| 2050 | 9104205830 | |

کلنی د نفوسو منځنی ډېروالی په کلونو 1950-2000 کې % 1.81 وو. د 1950 کال وروسته د منځني ثابت ډېروالي سره.

$$p(t) = 2555078074e^{0.0181(t-1950)}$$

| | |
|---|---|
